مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: دوکتور مسعود پښتون
رالېږونکی: اتل بنوال

۲۰۲۶/۰۷/۲۱

# د محاسبوي ژبپوهنې پېژندنه،

## نظرياتي بنسټونه، علمي لیدلوري او په اوسني عصر کې یې اړتیا

محاسبوي ژبپوهنه (Computational Linguistics) د ژبپوهنې، کمپیوټر ساینس، ریاضیاتو، احصایي، ادراکي علومو(Cognitive Science) ، مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence) او منطق د ګډو هڅو پایله ده. د دې علم بنسټ پر دې ولاړ دی چې ایا د انسان ژبه په داسې علمي او محاسبوي چوکاټ کې تشریح کېدای شي چې کمپیوټر يې درک، تحلیل او تولید کړای شي؟ همدې پوښتنې د محاسبوي ژبپوهنې د نظریاتو د رامنځته کېدو لامل شوې ده.
د دې علم پرمختګ یوازې د کمپیوټرونو د چټکتیا محصول نه دی، بلکې د هغو ژبپوهانو، فیلسوفانو او کمپیوټرپوهانو د نظریاتو پایله هم ده چې د انسان د ژبې د جوړښت، مانا او ادراک په اړه يې بنسټيزې څېړنې کړې دي. د دغو نظریاتو په رڼا کې نن ورځ داسې هوښیار ژبني ماډلونه جوړ شوي چې د میلیونونو انسانانو د ورځني ژوند برخه ګرځېدلي دي.

### د محاسبوي ژبپوهنې (Computational Linguistics) تاریخ:

محاسبوي ژبپوهنه (Computational Linguistics) د ژبپوهنې، کمپیوټر ساینس، مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence)، ریاضیاتو او ادراکي علومو (Cognitive Science) ترمنځ یوه ګډه او بین‌الرشتوي علمي څانګه ده، چې موخه یې د انساني ژبې د تحلیل، درک، تولید او ژباړې لپاره د کمپیوټري سیستمونو جوړول او پراختیا ده. نن ورځ دا علم د مصنوعي ځیرکتیا او طبیعي ژبې د پروسس (Natural Language Processing) له مهمو بنسټونو څخه شمېرل کېږي، خو د دې علم تاریخ تر اوو لسیزو زیات عمر لري او د بېلابېلو پړاوونو له تېرېدو وروسته یې اوسنی پرمختللی بڼه خپله کړې ده.
د محاسبوي ژبپوهنې بنسټ په رسمي ډول د شلمې پېړۍ د پنځوسمو کلونو له پیل څخه اېښودل شوی، خو فکري بنسټ يې په ۱۹۴۹ زېږدیز کال کې د امریکایي ریاضي‌پوه او ساینس‌پوه وارن ویور (Warren Weaver) له خوا کېښودل شو. نوموړي د Translation په نوم یو مشهور یادښت (Memorandum) خپور کړ او پکې یې دا نظریه وړاندې کړه چې کمپیوټرونه د ریاضیاتي او احصایوي اصولو په مرسته د بېلابېلو ژبو ترمنځ ژباړه ترسره کولای شي. ویور باور درلود چې د انسان ژبې هم د رمزونو (Codes) په څېر ځانګړي جوړښتونه لري او کمپیوټرونه يې تحلیل او ژباړه کولای شي. له همدې امله ډېری څېړونکي وارن ویور د محاسبوي ژبپوهنې د فکري بنسټ اېښودونکي په توګه یادوي.
د ویور له نظریې وروسته په متحده ایالاتو کې ګڼو پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو د ماشیني ژباړې (Machine Translation)په اړه عملي څېړنې پیل کړې. په ځانګړې توګه د جورجټاون پوهنتون (Georgetown University)او د IBM شرکت ګډه پروژه د دې علم په تاریخ کې یو مهم پړاو ګڼل کېږي.
په ۱۹۵۴ زېږدیز کال کې د Georgetown–IBM Experiment په نوم ازمايښت ترسره شو چې پکې کمپیوټر شاوخوا شپېته روسي جملې په انګلیسي ژبه وژباړلې. که څه هم دغه ژباړه د محدودو لغتونو او ګرامري قواعدو پر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بنسټ وه، خو دا لومړی ځل و چې نړۍ په عملي ډول ولیدل چې کمپیوټر د انسان ژبه پروسس او ژباړلای شي.
همدې بریا د نړۍ د ډېرو هېوادونو پام دې نوې علمي څانګې ته واړاوه.
د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ لسیزو په اوږدو کې متحده ایالات د محاسبوي ژبپوهنې د څېړنو نړیوال مرکز وګرځېد. د سړې جګړې (Cold War) پر مهال د روسي علمي او پوځي اسنادو ژباړې ته اړتیا د دې لامل شوه چې د امریکا حکومت په ځانګړې توګه د دفاع وزارت او نورو علمي بنسټونو په دې برخه کې پراخه مالي پانګونه وکړي. په همدې موده کې څېړنې تر ډېره د قاعده‌محورو (Rule-Based) سیستمونو پر جوړولو، صرفي تحلیل (Morphological Analysis)، نحوي تحلیل (Syntactic Parsing) او د لغتونو د بریښنایي قاموسونو پر جوړولو متمرکزې وې.
په همدې لسیزه کې د امریکایي ژبپوه نوم چامسکي (Noam Chomsky) د بدلونيزې - زېږندې ګرامر (Transformational-Generative Grammar)نظریه هم وړاندې شوه. چامسکي په ۱۹۵۷ کال کې خپل مشهور کتاب Syntactic Structures خپور کړ چې د ژبې د نحوي جوړښتونو علمي تحلیل یې وړاندې کاوه.
که څه هم چامسکي خپله د محاسبوي ژبپوهنې بنسټ ایښودونکی نه و، خو د هغه نحوي نظریې د محاسبوي ژبپوهنې د ډېرو لومړنیو سیستمونو لپاره مهم نظري بنسټ برابر کړ او د کمپیوټري ګرامرونو په جوړولو کې ترې پراخه ګټه واخیستل شوه.
سره له دې چې په لومړیو کلونو کې د ماشیني ژباړې په اړه ډېرې هیلې موجودې وې، خو عملي پایلې د تمې خلاف وې. په ۱۹۶۶ کال کې د امریکا د حکومت له خوا د ALPAC (Automatic Language Processing Advisory Committee)په نوم کمېټې خپل راپور خپور کړ. راپور دې پایلې ته ورسېد چې ماشیني ژباړه لا تر اوسه د عملي استفادې وړ نه ده او د ژباړې کیفیت یې کمزوری دی. د همدې راپور له خپرېدو وروسته د امریکا حکومت د ماشیني ژباړې ډېری پروژې ودرولې او مالي ملاتړ یې کم کړ. دا پړاو د محاسبوي ژبپوهنې په تاریخ کې د لومړي ستر رکود په نوم یادېږي.
سره له دې چې په امریکا کې څېړنې کمزورې شوې، خو په ۱۹۷۰ لسیزه کې په بریتانیا، فرانسه، جرمني، شوروي اتحاد، جاپان او کاناډا کې د محاسبوي ژبپوهنې څېړنې دوام پیدا کړ. په دې هېوادونو کې پوهنتونونو ځانګړي څېړنیز مرکزونه جوړ کړل او د ژبپوهانو او کمپیوټرپوهانو ګډ کار زیات شو. په همدې موده کې څېړنې یوازې په ماشیني ژباړه محدودې نه وې، بلکې د وینا پېژندنې(Speech Recognition) ، معلوماتو راایستلو (Information Retrieval)، ګرامري سمون، او د متن د تحلیل په برخو کې هم پراختیا ومونده.
د ۱۹۸۰ لسیزه د محاسبوي ژبپوهنې لپاره د بدلون لسیزه وه. څېړونکي ورو ورو د قاعده‌محورو سیستمونو پر ځای احصایوي (Statistical) طریقو ته مخه کړه. د کمپیوټرونو د حافظې او محاسبوي وړتیاوو له زیاتېدو سره د ژبو ستر بریښنایي متنونه یا کورپسونه (Corpora) جوړ شول. د امریکا Brown Corpus او د بریتانیا British National Corpus (BNC)د نړۍ له لومړنیو لویو ژبنیو کورپسونو څخه وو، چې څېړونکو ته یې د ژبې د واقعي استعمال د تحلیل زمینه برابره کړه. په همدې لسیزه کې د وینا پېژندنې، اتومات متن‌تحلیل او احصایوي نحوي تحلیل په برخو کې هم د پام وړ پرمختګ وشو.
په ۱۹۹۰ لسیزه کې د ماشیني زده‌کړې (Machine Learning) کارونه پیل شول. د دې پر ځای چې ټول قواعد په لاس ولیکل شي، کمپیوټرونو ته د بېلګو پر بنسټ زده‌کړه ورکول کېده. د همدې پرمختګ په مرسته د وینا برخو پېژندنه(Part-of-Speech Tagging) ، د نوم لرونکو موجودیتونو پېژندنه (Named Entity Recognition)، نحوي تحلیل او د معلوماتو استخراج په بې‌ساري ډول پرمختګ وکړ. په همدې وخت کې د محاسبوي ژبپوهنې نړیواله ټولنه(Association for Computational Linguistics - ACL) ، چې په ۱۹۶۲ کال کې جوړه شوې وه، د نړۍ د دې علم تر ټولو مهمه علمي اداره وګرځېده او تر نن ورځې پورې د نړۍ ستر نړیوال کنفرانسونه او علمي مجلې خپروي.
له ۲۰۰۰ زېږدیز کال وروسته د انټرنېټ پراختیا د محاسبوي ژبپوهنې پرمختګ چټک کړ. د انټرنېټ له لارې د میلیاردونو متنونو راټولېدل، د ګوګل، یاهو او نورو لټون‌انجنونو رامنځته کېدل، او د څو ژبو موازي متنونو (Parallel Corpora)زیاتوالی د ماشیني ژباړې کیفیت ډېر ښه کړ. دIBM Research ، Google، Microsoftاو نورو نړیوالو ټکنالوژۍ شرکتونو د احصایوي ماشیني ژباړې (Statistical Machine Translation)په برخه کې ستري لاسته راوړنې درلودې.
د ۲۰۱۰ لسیزه د ژورې زده‌کړې (Deep Learning) او عصبي شبکو (Neural Networks) د پیل لسیزه وه.
په ۲۰۱۳ کال کې د Word2Vec ماډل د کلمو مانیزې اړیکې په ریاضیاتي ډول وښودلې. وروسته د Recurrent Neural Networks (RNNs)او Long Short-Term Memory (LSTM) ماډلونو د ژبې د تحلیل او ژباړې دقت زیات کړ.
تر ټولو ستر بدلون په ۲۰۱۷ کال کې رامنځته شو، کله چې د ګوګل څېړونکو د Transformer معمارۍ معرفي کړه او خپله مشهوره مقاله Attention Is All You Need یې خپره کړه. همدې نوښت د محاسبوي ژبپوهنې بڼه بدله کړه او د لویو ژبنیو ماډلونو (Large Language Models) بنسټ یې کېښود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

له ۲۰۱۸ کال وروسته دBERT ، GPT، RoBERTa، T5او نورو لویو ژبنیو ماډلونو په رامنځته کېدو سره محاسبوي ژبپوهنه د مصنوعي ځيرکتيا له مهمو برخو څخه وګرځېده. دغه ماډلونه د میلیاردونو کلمو پر بنسټ روزل شوي او د ژباړې، متن لنډوني، پوښتنو ځوابولو، احساساتي تحلیل، خبرو اترو او متن تولید په برخو کې د انسان کچې ته نږدې پایلې وړاندې کوي.
نن ورځ محاسبوي ژبپوهنه د نړۍ په ډېرو پرمختللو هېوادونو لکه متحده ایالات، کاناډا، بریتانیا، جرمني، فرانسه، هالنډ، فنلنډ، سویډن، چین، جاپان، سویلي کوریا، هند، سنګاپور او استرالیا کې د پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو او ټکنالوژۍ د لویو شرکتونو له مهمو څېړنیزو برخو څخه ده. سربېره پر دې، د افغانستان، پاکستان، نیپال، افریقایي هېوادونو او نورو هغو هېوادونو لپاره هم څېړنې رواني دي چې د ټیټو ډیجیټلي سرچینو لرونکي ژبې (Low-Resource Languages)لري، ترڅو د دغو ژبو لپاره برېښنایي قاموسونه، ژبني کورپسونه، د وینا پېژندنې سیستمونه او ماشیني ژباړې پروګرامونه جوړ شي.
په ټوله کې، د محاسبوي ژبپوهنې تاریخ له ۱۹۴۹ کال کې د وارن ویور له نظريي څخه پیل، د ۱۹۵۴ کال د جورجټاون IBM—له ازمایښت څخه تر ننني لويو ژبنیو ماډلونو پورې د دوامداره علمي پرمختګ کیسه ده. دا علم د قاعده‌محورو سیستمونو، احصایوي میتودونو، ماشیني زده‌کړې، ژورې زده‌کړې او عصبي شبکو له پړاوونو تېر شوی او نن د مصنوعي ځيرکتيا له تر ټولو اغېزمنو او چټک پرمختګ کوونکو علمي برخو څخه ګڼل کېږي. د دې برخې راتلونکې لا هم د پراخو نوښتونو، د نړۍ د ټولو ژبو د ډیجیټلي کولو او د انسان او ماشین ترمنځ د لا طبیعي اړیکو د رامنځته کولو ژمنه کوي.

## ژبه د یوه نظام په توګه:

د معاصرې ژبپوهنې بنسټیز فکر دا دی چې ژبه د تصادفي کلمو ټولګه نه ده، بلکې یو منظم او قانونمند نظام دی. د همدې اصل پر بنسټ محاسبوي ژبپوهنه هڅه کوي چې د ژبې دا نظام په محاسبوي فورمولونو، الګوریتمونو او ماډلونو بدل کړي.
د ژبې هره کچه—له غږ څخه نیولې تر مانا او ګفتمان پورې—خپل ځانګړي اصول لري. که دا اصول په دقیق ډول وپېژندل شي، نو کمپیوټر هم کولای شي د انسان ژبه تحلیل کړي. د همدې لیدلوري له مخې، ژبه د معلوماتو یو جوړښتیز سیستم ګڼل کېږي چې د محاسبوي تحلیل وړتیا لري.

## جوړښتي ژبپوهنه او محاسبوي ژبپوهنې بنسټ:

د شلمې پېړۍ په پیل کې د سویس ژبپوه فردیناند دو سوسور د جوړښتي ژبپوهنې (Structural Linguistics) نظریه وړاندې کړه. هغه ژبه د نښو (Signs) یو منظم نظام وباله او څرګنده یې کړه چې د ژبې هره نښه له دوو برخو جوړه ده: دال (Signifier) او مدلول.(Signified)
د سوسور له نظره د ژبې ارزښت د کلمو په خپلواک وجود کې نه، بلکې د هغوی په متقابلو اړیکو کې نغښتی دی. همدې نظريي وروسته د محاسبوي ژبپوهنې لپاره لاره هواره کړه، ځکه کمپیوټر هم د اړیکو، شبکو او نمونو له لارې معلومات تحلیلوي.
نن ورځ د کلمو د اړیکو د تحلیل لپاره د Word Embeddings ، Semantic Networks او Knowledge Graphs په څېر پرمختللي محاسبوي تخنیکونه کارول کېږي، چې فکري ریښه یې د جوړښتي ژبپوهنې له همدې نظریې سره تړاو لري.

## د نوام چامسکي د تولیدي ګرامر نظریه:

د محاسبوي ژبپوهنې په تاریخ کې د نوام چامسکي نظریات تر ټولو اغېزمن بلل کېږي. چامسکي په ۱۹۵۷ کال کې د تولیدي ګرامر (Generative Grammar) نظریه وړاندې کړه او ویې ویل چې انسان یوازې جملې نه حفظ کوي، بلکې په ذهن کې داسې قواعد لري چې له هغوی څخه بې شمېره نوې جملې تولیدولای شي.
چامسکي باور درلود چې ژبه د انسان د ذهن یوه فطري وړتیا ده. د هغه په اند هر انسان د ژبې د زده کړې لپاره له زېږون سره یو ذهني چوکاټ لري چې د نړیوال ګرامر (Universal Grammar) په نوم یادېږي.
د دې نظریې اغېز پر محاسبوي ژبپوهنه ډېر ژور و، ځکه د لومړنیو نحوي تحلیلګرونو (Parsers) ډېرې الګوریتمونه د همدې تولیدي قواعدو پر بنسټ جوړ شول. د Context-Free Grammar ، Phrase Structure Grammar او Parsing Algorithms په پراختیا کې د چامسکي نظریه بنسټیز رول لري. سره له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي، وروسته څېړنو وښودله چې یوازې نحوي قواعد د ژبې د بشپړ درک لپاره بسنه نه کوي، ځکه ژبه د سیاق، مانا او ټولنیزو شرایطو تر اغېز لاندې هم بدلېږي.

## د الن ټورینګ نظریه:

د کمپیوټر ساینس مخکښ الن ټورینګ په ۱۹۵۰ م کال کې خپله مشهوره مقاله Computing Machinery and Intelligenceخپره کړه او پکې یې دا پوښتنه مطرح کړه: «ایا ماشین فکر کولای شي؟ هغه د ټورینګ ازموینه (Turing Test)وړاندې کړه. د دې ازموینې له مخې، که یو کمپیوټر وکولای شي د خبرو اترو پر مهال انسان په دې قانع کړي چې مقابل لوری هم انسان دی، نو ویل کېدای شي چې ماشین هوښیار چلند کوي.
د ټورینګ نظریه د محاسبوي ژبپوهنې لپاره تاریخي اهمیت لري، ځکه دا یې څرګنده کړه چې طبیعي ژبه د مصنوعي ځیرکتیا د ارزونې تر ټولو مهم معیار دی. همدا نظریه د ننني چټبوټونو او لویو ژبنیو ماډلونو د ارزونې لپاره هم الهامبښونکې ده.

## ادراکي ژبپوهنه او محاسبوي ماډلونه:

په ۱۹۸۰ م لسیزه کې د ادراکي ژبپوهنې (Cognitive Linguistics) نظریې پراخې شوې. د دې مکتب استازي استدلال کوي چې ژبه د انسان له ادراک، تجربې او مفهومي نظام څخه جلا نه ده. یعني د یوې کلمې مانا یوازې د قاموس له تعریف څخه نه، بلکې د انسان له ذهني تجربو، فرهنګي شالید او سیاق څخه هم اغېزمنه کېږي.
دغه لیدلوری د محاسبوي ژبپوهنې لپاره نوی ځلنج و. پخوانیو قاعده‌محورو سیستمونو یوازې نحوي جوړښت ته پام کاوه، خو د ادراکي ژبپوهنې نظریې وښودله چې د ژبې مانا د انساني تجربې له درک پرته بشپړه نه شي تشریح کېدای. د همدې اړتیا له امله اوسني ژبني ماډلونه هڅه کوي چې د کلمو ماناوې د هغوی د استعمال له سیاق سره یوځای زده کړي. د Contextual Word Representations او Transformer معمارۍ د همدې مفکورې پرمختللې بېلګې دي.

## احصایوي ژبپوهنه:

د شلمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د ژبې د تحلیل لپاره احصایوي میتودونه ډېر مشهور شول. د دې نظریې له مخې، ژبه د احتمالي اړیکو یو نظام دی او د لویو متني زېرمو (Corpora) د تحلیل له لارې یې نمونې موندل کېدای شي. په دې پړاو کې د N-gram ماډلونه، Hidden Markov Modelsاو Bayesian Models رامنځته شول. دغو ماډلونو ماشین ته دا توان ورکړ چې د کلمو د تکرار، ګډ راتګ او احتمالي اړیکو پر بنسټ راتلونکې کلمه اټکل کړي. احصایوي ژبپوهنې د ماشین ژباړې، غږ پېژندنې او املا سمونې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کړل، خو د ژبې ژوره مانا یې لا هم په بشپړه توګه نه شوه درک کولای.

## ژوره زده کړه او عصبي ژبني ماډلونه:

له ۲۰۱۰ م کال وروسته د ژورو عصبي شبکو (Deep Neural Networks) پراختیا د محاسبوي ژبپوهنې په تاریخ کې یو نوی فصل پرانیست. په دې پړاو کې کمپیوټر نور یوازې قواعد یا احصایوي اړیکې نه زده کوي، بلکې د میلیونونو متنونو له تحلیل څخه ژورې بڼې او اړیکې هم کشفوي. عصبي ژبني ماډلونه د انسان د عصبي سیستم له جوړښت څخه الهام اخلي. دغه ماډلونه په سلګونو یا زرګونو پټ پوړونه لري چې هر یو یې د ژبې بېلابېل ځانګړتیاوې زده کوي. د همدې پرمختګ له امله نن ورځ کمپیوټر د متن لنډیز، پوښتنو ته ځواب، ژباړه، متن تولید او حتی علمي لیکنې هم ترسره کولای شي.

## د ترانسفارمر معمارۍ انقلاب:

په ۲۰۱۷ م کال کې د Transformer معمارۍ معرفي کېدل د محاسبوي ژبپوهنې په تاریخ کې یو ستر بدلون و. د دې معمارۍ تر ټولو مهم نوښت د Attention Mechanism و، چې ماډل ته اجازه ورکوي د جملې ټولې برخې په یو وخت کې وارزوي او د کلمو ترمنځ لرې اړیکې هم درک کړي. د همدې تخنیک پر بنسټ وروسته لوی ژبني ماډلونه (Large Language Models) جوړ شول چې په میلیاردونو کلمو روزل شوي دي. دغه ماډلونه نه یوازې د ژبې نحوي جوړښت، بلکې د مانا، سیاق او ګفتمان ډېرې اړخونه هم زده کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د معناپوهنې او سیاق اهمیت:

د ژبې تر ټولو ستونزمن اړخ مانا (Semantics) او سیاق (Context) دی. یوه کلمه په بېلابېلو حالاتو کې بېلابېلې ماناوې لرلای شي. د بېلګې په توګه، د «سر» کلمه کله د بدن غړی، کله مشر او کله د کوم شي پیل ته اشاره کوي. د دې توپیر پېژندل د محاسبوي ژبپوهنې له مهمو ننګونو څخه دي. اوسني ژبني ماډلونه هڅه کوي چې د جملې ټول سیاق تحلیل کړي او د کلمې مناسبه مانا وټاکي. دا پرمختګ د ژبې د طبیعي درک په لور یو مهم ګام ګڼل کېږي.

## د نظریاتو ترمنځ اړیکه:

که د محاسبوي ژبپوهنې تاریخ ته وکتل شي، څرګندېږي چې دا علم د یوې نظریې محصول نه دی. جوړښتي ژبپوهنې د ژبې نظام تشریح کړ، تولیدي ګرامر د نحوي قواعدو اهمیت روښانه کړ، ادراکي ژبپوهنې د انسان د ذهن رول بیان کړ، احصایوي میتودونو د معلوماتو له لارې زده کړه ممکنه کړه او ژورو عصبي شبکو د دغو ټولو نظریاتو عملي پلي کېدو ته نوې لار هواره کړه.
له همدې امله، معاصر محاسبوي ژبپوهنه د ژبپوهنې، احصایې، ریاضیاتو، کمپیوټر ساینس، مصنوعي ځیرکتیا او ادراکي علومو د ګډو نظریو یوه علمي مجموعه ده. د دې علم راتلونکې هم په همدې بینرشتوي همکارۍ پورې تړلې دی، ځکه د انسان د ژبې بشپړ درک یوازې د یوې علمي څانګې له لارې ممکن نه دی.
طبیعي ژبې پروسس(Natural Language Processing) ، ماشیني زده کړه او لوی ژبني ماډلونه(LLMs) د شلمې پېړۍ په وروستیو او په ځانګړې توګه د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې د کمپیوټر ساینس او مصنوعي ځیرکتیا چټک پرمختګ د دې لامل شو چې د انسان او ماشین ترمنځ اړیکې نوې بڼه خپله کړي. که پخوا کمپیوټر یوازې عددي محاسبې او ټاکلي برنامې اجرا کولې، نن ورځ کولای شي متن ولولي، خبرې واوري، پوښتنو ته ځوابونه ورکړي، مقالې ولیکي، ژباړه وکړي او حتی د انسان په څېر منطقي استدلال وړاندې کړي. د دې ټولو پرمختګونو تر شا اساسي علمي بنسټ طبیعي ژبې پروسس (Natural Language Processing – NLP) دی، چې د محاسبوي ژبپوهنې تر ټولو مهمه او عملي څانګه ګڼل کېږي.
طبیعي ژبې پروسس هغه علمي او تخنیکي ډګر دی چې موخه یې دا ده چې کمپیوټر د انسان طبیعي ژبه درک، تحلیل، تفسیر او تولید کړي. دلته د "طبیعي ژبې" څخه موخه هغه ژبې دي چې انسانان یې په ورځني ژوند کې کاروي، لکه پښتو، دري، انګلیسي، عربي، فرانسوي او نورې ژبې. د NLP اساسي موخه دا ده چې ماشین د انسان د ژبې له ظاهري جوړښت څخه تېر شي او د هغې مانا، سیاق، نیت او اړیکې درک کړي.
د طبیعي ژبې پروسس د محاسبوي ژبپوهنې او مصنوعي ځیرکتیا ترمنځ د وصل پُل دی. محاسبوي ژبپوهنه د ژبې علمي او نظریاتي اصول وړاندې کوي، په داسې حال کې چې NLP همدغه اصول په عملي الګوریتمونو او کمپیوټري سیستمونو کې پلي کوي. په همدې دلیل، د دواړو اصطلاحاتو ترمنځ ډېر نږدې اړیکه شته، که څه هم محاسبوي ژبپوهنه تر ډېره علمي او تیوریکه بڼه لري او NLP عملي او انجنیرۍ اړخ استازیتوب کوي.

## د طبیعي ژبې تاریخي پروسس او پرمختګ:

د طبیعي ژبې پروسس لومړني ګامونه د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ لسیزو په جریان کې پورته شول، کله چې څېړونکو هڅه وکړه د ماشین ژباړې لومړني سیستمونه جوړ کړي. په هغه وخت کې ټول سیستمونه د قواعدو (Rules) پر بنسټ وو. ژبپوهانو به د یوې ژبې نحوي، صرفي او لغوي قواعد په لاسي ډول لیکل او کمپیوټر به د هماغو قواعدو له مخې متن تحلیل کاوه. که څه هم دغه سیستمونه د محدودو متنونو لپاره اغېزمن وو، خو د انسان د ژبې د انعطاف، ابهام او استثناوو له امله یې دقت کم و. د بېلګې په توګه، یوه کلمه په بېلابېلو سیاقونو کې بېلابېلې ماناوې لري، خو قاعده‌محور سیستمونه دا توپیر نه شوای تشخیص کولای.
په ۱۹۹۰ م لسیزه کې د احصایوي ژبپوهنې (Statistical NLP) دور پیل شو. په دې پړاو کې کمپیوټر نور یوازې قواعد نه تعقیبول، بلکې د میلیونونو جملو له تحلیل څخه نمونې زده کوي. د همدې بدلون له امله د ژباړې، متن طبقه‌بندۍ او وینا پېژندنې سیستمونه د پام وړ ښه شول. وروسته د ژورو عصبي شبکو (Deep Neural Networks)او په ځانګړې توګه د Transformer معمارۍ راڅرګندېدو د NLP په تاریخ کې ستر انقلاب رامنځته کړ. اوسني ژبني ماډلونه د میلیاردونو کلمو له تحلیل وروسته د ژبې داسې ژورې اړیکې زده کوي چې پخوا یې تصور هم نه کېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د ژبې د طبیعي پروسس مهمي دندې:

د طبیعي ژبې پروسس بېلابېلي علمي او عملي دندې لري، چې هره یوه یې د ژبې د درک ځانګړی اړخ بیانوي.
لومړی، د متن وېش (Tokenization) دی. په دې پړاو کې متن په جملو، کلمو یا کوچنیو واحدونو وېشل کېږي.
دا د NLP د ټولو راتلونکو مرحلو بنسټ ګڼل کېږي.
دویم، صرفي تحلیل (Morphological Analysis) دی. دلته کمپیوټر د کلمې رېښه، مخکیني او وروستي ترړنګونه (Prefixes)او (Suffixes) او ګرامري ځانګړتیاوې تشخیصوي. دا پړاو د هغو ژبو لپاره ډېر مهم دی چې صرفي جوړښت یې پېچلی وي، لکه پښتو.
درېیم، نحوي تحلیل (Parsing) دی. په دې مرحله کې کمپیوټر د جملې نحوي جوړښت تحلیلوي او د کلمو ترمنځ اړیکې معلوموي.
څلورم، ماناپوهنیز تحلیل (Semantic Analysis) دی. په دې پړاو کې ماشین هڅه کوي چې د جملې حقیقي مانا درک کړي، نه یوازې د کلمو ظاهري ترتیب.
پنځم، عملي پوهنیز تحلیل (c Analysis) دی. دلته د جملې مانا د ټولنیز او سیاقي وضعیت له مخې ارزول کېږي.
د بېلګې په توګه، د «دروازه خلاصه ده» جمله کېدای شي یوازې خبر وي یا په غیر مستقیم ډول د دروازې د بندولو غوښتنه هم وي.

## ماشیني زده کړه او د ژبنی تحلیل:

ماشین زده کړه (Machine Learning) د مصنوعي ځیرکتیا هغه څانګه ده چې کمپیوټر ته اجازه ورکوي د معلوماتو له تحلیل څخه زده کړه وکړي، پرته له دې چې هره قاعده ورته په لاسي ډول ولیکل شي. په محاسبوي ژبپوهنه کې ماشین زده کړه د دې لپاره کارول کېږي چې کمپیوټر د میلیونونو متنونو له لوستلو وروسته د ژبې قواعد، اړیکې او احتمالي نمونې پخپله زده کړي. د بېلګې په توګه، که یو سیستم میلیونونه پښتو جملې تحلیل کړي، ورو ورو زده کوي چې کومې کلمې عموماً یو ځای راځي، کومې نحوي جوړښتونه ډېر کارېږي او کومې ماناوې له کوم سیاق سره تړاو لري.

## ماشین زده کړه په درې اساسي ډولونو وېشل کېږي:

۱ .څارل شوې زده کړه(Supervised Learning) ، چې پکې سیستم د نښه‌لرونکو معلوماتو پر بنسټ روزل کېږي.
۲ .ناڅارل شوې زده کړه(Unsupervised Learning) ، چې پکې ماشین پخپله د معلوماتو پټې نمونې کشفوي.
۳ .پیاوړې زده کړه(Reinforcement Learning) ، چې پکې سیستم د انعام او سزا له لارې د غوره پرېکړو زده کړه کوي.
په معاصرو ژبنیو ماډلونو کې د دغو ټولو میتودونو بېلابېل ترکیبونه کارول کېږي.
ژوره زده کړه(Deep Learning)
ژوره زده کړه د ماشین زده کړې پرمختللې بڼه ده چې د مصنوعي عصبي شبکو (Artificial Neural Networks)پر بنسټ ولاړه ده. دغه شبکې د انسان د مغز له عصبي جوړښت څخه الهام اخلي. په دودیزو ماشیني سیستمونو کې انسان اړ و چې مهمې ځانګړتیاوې (Features) پخپله وټاکي، خو په ژورو زده کړو کې سیستم دا ځانګړتیاوې پخپله کشفوي. د همدې ځانګړتیا له امله ژوره زده کړه د ژبې د درک په برخه کې بې ساري پرمختګونه رامنځته کړل. د بېلګې په توګه، که یو ژبنی ماډل په میلیاردونو جملو وروزل شي، هغه نه یوازې د کلمو اړیکې زده کوي، بلکې د سبک، استدلال، سیاق، احساساتو او حتی د لیکوال د بیان ځانګړتیاوې هم درک کولای شي.

## د ټرانسفارمر معمار:(Transformer Architecture)

په ۲۰۱۷ کال کې د "Attention Is All You Need" تر عنوان لاندې څېړنیزې مقالې د ژبنیو ماډلونو په تاریخ کې نوی باب پرانیست. په دې مقاله کې د Transformer معمارۍ معرفي شوه. د دې معمارۍ تر ټولو مهم نوښت د Self-Attention Mechanism دی. دا تخنیک ماډل ته اجازه ورکوي چې د جملې ټولې کلمې په یو وخت کې تحلیل کړي او د هغوی ترمنځ اړیکې وپېژني. د پخوانیو تکراري شبکو (RNNs) برعکس، ټرانسفارمر کولای شي اوږده متنونه په ډېر لوړ سرعت او دقت تحلیل کړي. د همدې معمارۍ پر بنسټ د نن ورځې لوی ژبني ماډلونه جوړ شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

## لوی ژبني ماډلونه:(Large Language Models)

لوی ژبني ماډلونه یا LLMs د مصنوعي ځیرکتیا هغه پرمختللي سیستمونه دي چې د میلیاردونو کلمو او اسنادو له تحلیل وروسته روزل کېږي. دغه ماډلونه د ژبې د تولید، تحلیل، لنډیز، ژباړې، استدلال او پوښتنو ځوابولو وړتیا لري. د دې ماډلونو روزنه په څو پړاوونو کې ترسره کېږي. لومړی، سیستم د پراخو متني زېرمو پر بنسټ د ژبې عمومي جوړښت زده کوي. وروسته د ځانګړو دندو لپاره نوره روزنه ورکول کېږي. په وروستي پړاو کې د انساني ارزوونکو د فیډبک له لارې د ځوابونو کیفیت ښه کېږي. دغه ماډلونه د دې توان لري چې د متن له سیاق څخه د راتلونکي کلمې اټکل وکړي، خو د روزنې د پراخوالي له امله یې ځوابونه د انساني استدلال په څېر ښکاري.

## د NLP او LLMs عملي اغېزې:

د طبیعي ژبې پروسس او لویو ژبنیو ماډلونو پرمختګ د ژوند په نږدې ټولو برخو خپلې اغېزې لري. په تعلیم کې د هوښیارو ښوونیزو مرستیالانو، په روغتیا کې د طبي اسنادو د تحلیل، په حقوقو کې د اسنادو د ارزونې، په سوداګرۍ کې د پیرودونکو د خدمتونو، په رسنیو کې د خبرونو د لنډیز، او په څېړنه کې د علمي معلوماتو د تحلیل لپاره دا ټکنالوژي په پراخه کچه کارول کېږي.
په ورته وخت کې، د ټیټو سرچینو ژبو لکه پښتو لپاره هم دا پرمختګونه نوی فرصت برابروي. که د پښتو لپاره معیاري متني زېرمې، لغتنامې او ژبني ډیټاسیټونه جوړ شي، نو د دې ژبې لپاره هم د لوړ کیفیت ژبني ماډلونه رامنځته کېدای شي. د طبیعي ژبې پروسس او لوی ژبني ماډلونه د محاسبوي ژبپوهنې تر ټولو مهمه لاسته راوړنه ده. د دې ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ له امله انسان او ماشین ورځ تر بلې طبیعي، اغېزمنه او هوښیاره اړیکه رامنځته کوي. تمه کېږي چې په راتلونکو کلونو کې به د NLP او LLMs پرمختګ د ژبې، زده کړې، څېړنې او ټولنیزو اړیکو بڼه لا ډېره بدله کړي.
د محاسبوي ژبپوهنې عملي تطبیق: ماشیني ژباړه، غږ پېژندنه، متن تولید، احساساتو تحلیل، د معلوماتو رااېستل او هوښیار چټبوټونه
د محاسبوي ژبپوهنې ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې د ژبې په اړه نوې علمي نظریې وړاندې کوي، بلکې تر ټولو مهمه ځانګړنه یې دا ده چې دغه نظریې په عملي ټکنالوژیو بدلېږي. نن ورځ د نړۍ ډېری هوښیار ډیجیټلي خدمتونه د محاسبوي ژبپوهنې پر بنسټ ولاړ دي. د طبیعي ژبې پروسس، ماشین زده کړې او ژورو عصبي شبکو په پرمختګ سره کمپیوټرونه توانېدلي چې د انسان ژبه په داسې کچه درک او تولید کړي چې څو لسیزې وړاندې یې تصور هم ناشونی ګڼل کېده. له همدې امله، محاسبوي ژبپوهنه اوس د روغتیا، زده کړې، سوداګرۍ، رسنیو، امنیت، حکومتولۍ، حقوقو او علمي څېړنو په ګډون د ژوند په نږدې ټولو برخو کې اساسي رول لري.

## ماشیني ژباړه:(Machine Translation)

ماشین ژباړه د محاسبوي ژبپوهنې له تر ټولو پخوانیو او اغېزناکو تطبیقونو څخه ده. موخه یې دا ده چې یو متن له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته په اتومات ډول وژباړي، پرته له دې چې انسان مستقیمه ونډه ولري. د ماشین ژباړې لومړني سیستمونه د قواعدو پر بنسټ جوړ شوي وو او د ژبپوهانو له لوري په لاسي ډول ورته زرګونه ګرامري قواعد لیکل کېدل. دا سیستمونه د محدودو متنونو لپاره مناسب وو، خو د ژبې د ابهام، اصطلاحاتو او سیاق د درک وړتیا یې کمه وه. وروسته احصایوي ماشین ژباړه رامنځته شوه، چې د لویو موازي متني زېرمو (Parallel Corpora)پر بنسټ یې د ژبو ترمنځ احتمالي اړیکي زده کولې. په وروستیو کلونو کې عصبي ماشین ژباړې (Neural Machine Translation)د ژباړې کیفیت په بې‌ساري ډول لوړ کړی دی. دا سیستمونه د ټرانسفارمر معمارۍ او ژورو عصبي شبکو له لارې د متن سیاق، مانا او ګرامري جوړښت په یو وخت کې تحلیلوي او روانه ژباړه وړاندې کوي.
د پښتو ژبې لپاره د ماشین ژباړې پرمختګ لا هم له ننګونو سره مخ دی، ځکه د لوړ کیفیت موازي متني زېرمې محدودې دي. د معیاري ژبنیو معلوماتو راټولول، د اصطلاحاتو یو شان کول او د بېلابېلو لهجو ترمنځ همغږي د دې برخې له مهمو اړتیاوو څخه دي. که دا ستونزې حل شي، نو د پښتو لپاره به هم د لوړ کیفیت ژباړنیز سیستمونه رامنځته شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## غږ پېژندنه:(Speech Recognition)

غږ پېژندنه یا (ASR) Automatic Speech Recognition هغه ټکنالوژي ده، چې د انسان وینا په لیکلي متن بدلوي. دا ټکنالوژي د محاسبوي ژبپوهنې، غږپوهنې، ماشین زده کړې او سیګنال پروسس ګډه لاسته راوړنه ده. په دې سیستم کې لومړی د انسان غږ ثبتیږي، وروسته د غږ څپې په کوچنیو برخو وېشل کېږي، بیا فونیمونه، کلمې او جملې پېژندل کېږي او په پای کې متن تولیدېږي.
غږ پېژندنه په هوښیارو ټیلیفونونو، مجازي مرستیالانو، موټرو، روغتیايي وسایلو او د لاس‌ازاد خدمتونو په سیستمونو کې پراخه کارونه لري. د دې ټکنالوژۍ دقت د ژبې د غږیزو معلوماتو، لهجو او روزنیزو ډېټاسیټونو پر کیفیت پورې تړلی دی. د پښتو ژبې لپاره د غږ پېژندنې لویه ستونزه د معیاري غږیزو معلوماتو نشتوالی دی. د بېلابېلو سیمو لهجې، د غږونو توپیر او د ثبت شویو معلوماتو کمښت د دې سبب شوی چې د پښتو لپاره د غږ پېژندنې سیستمونه لا تر اوسه د نړیوالو ژبو په کچه پرمختګ ونه کړي.

## د وینا تولید:(Text-to-Speech)

د غږ پېژندنې برعکس، د متن څخه وینا (Text-to-Speech) هغه ټکنالوژي ده چې لیکلی متن په طبیعي غږ بدلوي. دا سیستمونه لومړی متن تحلیلوي، د کلمو تلفظ ټاکي، د جملې اهنګ، وقفې او ټینګار محاسبه کوي او وروسته مصنوعي غږ تولیدوي. دغه ټکنالوژي د ړندو کسانو د مرستې، برېښنايي کتابونو، ښوونیزو پروګرامونو، ګرځنده اپلیکېشنونو او هوښیارو مرستیالانو لپاره ځانګړی اهمیت لري. د پښتو ژبې لپاره د طبیعي غږ تولید لا هم د پراخو څېړنو او معیاري غږیزو معلوماتو اړتیا لري.

## د احساساتو تحلیل:(Sentiment Analysis)

احساساتو تحلیل د طبیعي ژبې پروسس هغه برخه ده چې د متن احساساتي محتوا تشخیصوي. په دې تحلیل کې ماشین هڅه کوي چې معلومه کړي یو متن مثبت، منفي او که بې‌طرفه احساس څرګندوي. دا ټکنالوژي په سوداګرۍ، بازارموندنه، ټولنیزو رسنیو، سیاست، عامه افکارو او د مشتریانو د رضایت د ارزونې لپاره پراخه کارول کېږي. د بېلګې په توګه، که زرګونه خلک د یوه محصول په اړه نظرونه ولیکي، سیستم کولای شي د هغو ټولو نظرونو عمومي احساس تحلیل کړي او معلومه کړي چې خلک تر ډېره بریده راضي دي که نه.
د احساساتو تحلیل یوازې د کلمو شمېرل نه دي، ځکه کله ناکله یوه جمله ظاهراً مثبته وي، خو په حقیقت کې طنز یا نیوکه څرګندوي. له همدې امله اوسني ژبني ماډلونه هڅه کوي چې د سیاق، سبک او ګفتمان له مخې احساسات تحلیل کړي.

## د معلوماتو رااېستل:(Information Extraction)

د معلوماتو رااېستل د محاسبوي ژبپوهنې له مهمو تطبیقونو څخه دی چې موخه یې له اوږدو متنونو څخه د مهمو معلوماتو استخراج دی. په دې بهیر کې ماشین د اشخاصو، ځایونو، سازمانونو، نېټو، پېښو او نورو مهمو مفاهیمو پېژندنه کوي او وروسته یې په منظم ډول وړاندې کوي. دا ټکنالوژي په حقوقي اسنادو، طبي راپورونو، علمي مقالو، خبري رسنیو او دولتي معلوماتي سیستمونو کې ډېر ارزښت لري. د بېلګې په توګه، د زرګونو علمي مقالو له منځه د یوې ځانګړې ناروغۍ اړوند معلومات په څو ثانیو کې رااېستل کېدای شي.

## متن لنډیز:(Automatic Text Summarization)

د معلوماتو د چټک زیاتوالي له امله د متن اتومات لنډیز ورځ تر بلې مهم کېږي. د دې ټکنالوژۍ موخه دا ده چې اوږده اسناد، راپورونه او مقالې په لنډ، خو مانا لرونکي متن بدل کړي. د متن لنډیز دوه ډوله دی. په لومړي ډول کې د متن مهمې جملې غوره کېږي، او په دویم ډول کې ماشین پخپله نوی لنډیز تولیدوي چې د اصلي متن مهمې مفکورې پکې خوندي وي. د ژورو عصبي شبکو او لویو ژبنیو ماډلونو پرمختګ د دویم ډول کیفیت ډېر لوړ کړی دی.
پوښتنو ته ځواب ویل:(Question Answering Systems)
د پوښتنو ځوابونکي سیستمونه هغه هوښیار پروګرامونه دي چې د کاروونکي پوښتنه تحلیلوي، د اړتیا وړ معلومات پیدا کوي او دقیق ځواب وړاندې کوي. دا سیستمونه په تعلیمي پلیټفارمونو، روغتیايي خدماتو، بانکدارۍ، حقوقي مشورو او علمي څېړنو کې پراخ کارول کېږي. د دې سیستمونو دقت د ژبې پر درک، د معلوماتو پر کیفیت او د


